**دویمه (۲) برخه:**

## د افغانستان د تعلیمي نظام لپاره اصلاحي طرحه
## او د نجونو د تعلیم اړتیا او پراختیا



**محمدآصف ننګ**

د پوهنې وزارت پخوانی سرپرست او مسلکي مرستیال

### *(۴) د تعلیمي نصاب او ښوونیز نظام په اړه د اصلاحاتو او بدلون طرحه*

ددې طرحې د تطبیق لپاره په دریو **((ماهیتي، کیفیتي او تقنیني برخو))** کې اصلاحات لازم دي چې مختصراً یې یادوم

**اولاً، ماهیتي اصلاحات، د پوهنې وزارت د تعلیمي دورو د ریفورم او اصلاحاتو طرحه**

### *د لومړنۍ، ابتدایې یا اصول صنفي دوره (اول تر دریم ټولګي)*
### *Basic & Primary Education*

پدې دوره کې فعلاً له شپږو تر اتو مضامین دي، چې باید راکم کړی شي او تمرکز یواځې په لیک لوست (سواد آموزي) وشي، د اضافي مضامینو ځای باید تر 60% پوري په ذهني، تربیتي او فیزیکي لوبو، سالمو تفریحي بوختیاوو او ګټورو ذوقي فعالیتونو را متمرکز شي، متاسفانه په موجوده پوهنیز نظام کې (په دولتي او خصوصي ښوونځیو کې) تفریحي، ذهني او فیزیکي فعالیتونه ډیر کم دي، ځکه نو لازمه ده ددې دورې ښوونځي په تفریحي پارکونو، سپورتي امکاناتو او د ذهني ودې په مرکزونو مزین او تجهیز کړی شي، ښوونیز مرکزونه او ښوونځي باید د لوبو او فیزیکي مشغولاو، وسایلو او پر ګلانو او بوټو باندې مزین شي.
تر ټولو پاخه، مهربان، صمیمي، مجرب او د پراخې حوصلې استادان بلکې همدې دورې ته غالباً ښځینه استادانې باید استخدام او وګمارل شي، تر څو زده کوونکي د ویرې او رعب پر ځای، صمیمي، اجتماعي، با جرائته او جسور وروزل شي، له تعلیم سره مینه ولري او مشرانو ته د احترام په روزنه سمبال کړل شي.

### *د منځنې یا عمومي زده کړو متوسطه دوره (څلورم تر نهم ټولګي)*
### *General & Medal Education*

پدې دوره کې د موجوده مضامینو شمیر تر 14 پورې رسیږي چې ډیر زیات دي، نهایتاً ددې دورې مضامین د ذوقي مضامینو په شمول باید تر لسو زیات نشي، دویم د غیر واجبي مضامینو تر کمیدو وروسته باید چې رشتوي مضامین یې په دوو برخو وویشل شي (صنفي مضامین او کریډیټ مضامین)، مثلاً ساینسي، ادبي او اجتماعي مضامین یې په ټولګیو کې تدریس شي او دیني مضامین یې بهتره ده چې په کریډیټ سیستم تبدیل شي، شاګردانو ته دې فرصت ورکړل شي تر څو د کریډیټ مضامین په جوماتونو، مدرسو او آزادو

کورسونو کې حاصل کړي، په عین وخت کې به د دیني مدارسو ساینسي او عصري علوم د کریډیټ په شکل په مکتبونو یا آزادو کورسونو کې تدریس او تکمیلیږي، تر څو لاندې عمده هدفونه پکې په ضمني توګه ترلاسه شي:

- د مدرسې او مکتب ترمینځ د کلونو واټن او سلیقوي تضاد به له مینځه لاړ شي، جومات او مکتب به سره وصل شي
- جوماتونه به په درسي مرکزونو تبدیل شي، د اضافي دیني استادانو استخدام پکې ترسره شي او پدې توګه به علما او د شرعي علومو فارغین په فعالتر نقش او پراخه توګه استخدام کړی شي.
- پدې ترتیب به د هېواد ټول یا اکثریت جوماتونه د دولت په رسمي تشکیلاتو کې شامل شي، اوس وخت افغانستان کې 160-140زره جوماتونه موجود دي چې یواځې 6000 یې رسمیت لري، د دې طرحې له تطبیق سره به اکثریت جوماتونه د امام او مؤذن تر څنګ نور دیني عالمان او د شرعي علومو فارغان هم په خپل تشکیل کې ولري، ورسره به د جوماتونو د پیام رسولو، دعوت او ارشاد او هم به د ځوانانو د سالمې روزنې او ګڼ نور ټولنیز اصلاحي پروګرامونه به لازیات منسجم، کنترول او هدفمن شي.
- د مکتب او جومات ګډې شوراګانې او هم به د محل او مدرسو ترمینځ د تعلیم د ملاتړ ګډې شوراګانې ایجاد شي، ښوونیزه څارنه (تعلیمي نظارت) به لازیات موثره شي او ټولنیز وحدت به لازیات غښتلی شي، پدې توګه به د تعلیمي او تحصیلي حقونو په هکله افهام او تفهیم لازیات پراخ او آن د ټولنې له اساس (قاعدې) تر رهبرۍ (د تصمیمګیریو تر مرکز) پورې به بنیادي او پوخ شي او طبعاً د تعلیم په جهاد کې به ټولنه مزیداً بسیج او دخیله شي.
- د آزادو ښوونیزو کورسونو او مرکزونو شمېر به زیات شي، اقتصادي تحرک به تقویه او پدې توګه به په تعلیم او تعلم کې د خصوصي سکتور او افرادو ونډه پراخه شي.
- شاګردان به په فارغو وختونو کې له ایله ګردۍ راوګرځوي، د دوی او د دیني مدرسو د طالبانو ترمینځ به صمیمیت او تماس ډېر شي چې یو پر بل به متقابلاً رغنده اغیز غورځوي.
- د کریډیټ مضامینو آزموینه به له معمول کلني او منځنیو امتحانونو سره یو ځای ترسره او نتایج به یې محاسبه کیږي.
- په همدې توګه د دیني مدرسو او دارالعلومونو ساینسي او د عصري علومو مضامین به په کریډیټ توګه په ښوونځیو کې تدریس کیږي چې لدې سره به اړوند طالب العلمان د مکتبونو له ماحول سره په سیستماتیک تماس او صمیمي پېوند کې وي...
- د دیني مضامینو په کریډیټ کېدو سره به په ښوونځیو او ټولګیو کې د صنفي مضامینو لپاره درسي تقسیم اوقات پراخ او پر صنفي مضامینو به د شاګردانو او استادانو تمرکز زیات شي او طبعاً پر باکیفیته زده کړې به مثبت اغیز ولري.
- همدارنګه به شاګردان وکولی شي خپل کریډیټي مضامین په کاملاً مسلکي ماحول او د مسلکي ښوونکو لخوا تر لاسه کوي چې دا یې پر باکیفیته زده کړو سخت مثبت اغیز غورځوي.

## ثانوي رشتوي دوره (لسم تر دوولسم ټولګي)

## Secondary Education, Field degree

له نهم صنف وروسته، یعني د عمومي تعلیماتو یا General Education تر دورې وروسته به زده کوونکي د انګلستان، هند، ایران او پاکستان له سیستمونو سره په نسبي شباهت سره په لاندې پنځو ښوونیزو څانګو یا دورو کې ووېشل شي:

1. **د ښوونځي یا اجتماعي علومو دوره،**
2. **د ساینسي علومو دوره،**
3. **د ښوونکو د روزنې یا تعلیم او تربیې دوره،**
4. **د اسلامي علومو دوره،**
5. **د تخنیکي، مسلکي او حرفوي علومو دوره…**

البته دغه تعلیمي دوره به له لسم ټولګي پیل کیږي او تر دوولسم پورې او د ځېنو رشتو په تداوم سره به آن تر څوارلسم ټولګې پورې دوام ومومي، چې ترجیحاً دې د ۱۴م ټولګیو فارغینو ته د لیسانس معادل (عالي مسلکي دیپلوم) ورکړل شي. دا تشویقي دیپلوم او امتیاز به له یوې خوا ځوانان او پېغلې وهڅوي چې په کمو کلونو کې خپل تحصیلي مسلکي دوره پوره کړې او د کار بازار ته به لاړ شي، پر کورنۍ به یې اقتصادي بوج هم راکم شي، بلخوا به د لوړو زده کړو پر موسساتو او پوهنتونونو د شمولیت فشار را کم کړې، هکذا به مسلکي علومو ته تشویق او ترغیب پراخ شي چې همدغه مسلکي، تخنیکي او حرفوي علوم د افغانستان په څېر د پسمانده ټولنې د انکشاف او پرمختګ په بهیر کې چټکتیا ایجاد او فوق العاده تقویتي اقتصادي نقش به ولوبوي.

**د رشتوي تثبت او انتخاب د آزمون مرحله:** شاګردان به له نهم ټولګې تر کامیابیدو وروسته د آیکو ټسټ یا ذهني ارزیابۍ له آزماېښت او د سویې دتثبیت له امتحان وروسته، د هغوی له شوق او رواني توانمندیو سره سم خپلو رشتوي څانګو (پورته ذکر شوې پنځو څانګو) ته تقسیمیږي، پدې هرې څانګې کې به د مضامینو تمرکز غالباً یعني(85٪ رشتوي) او پاتې 15٪ به د ذیربطه مهارتونو د ودې مضامینو او پروګرامونو ته اختصاص ومومي.



## نیمه عالي مسلکي دوه کلنه دوره (دیارلسم او څوارلسم ټولګي)

## Tertiary Professional Education

دغه دوره کاملاً مهمه بلکې حیاتي دوره ده، هم د افغانستان د کار د بازار د نیازمندیو له مخې او هم د افغانستان اقتصادي وضعیت ته په پام سره د دې دورې فارغین چې اصلاً په مسلکي او رشتوي لحاظ تکنیشنان technicians دي، د هېواد د کار بازار ورته شدیداً ضرورت لري پدې دورې کې لاندې څانګې شاملیدلی شي:

د بانکدارۍ او حسابدارۍ د څانګو پرسونل، قابله ګانې، فارمسي ماهرین، میډیکل انجینري، د روغتیایي مراقبتونو دوره، نرسان او د صحي روغتیایي خدمتونو اسیستانت پرسونل، د انجینرۍ د برخو معاونان او اسیستانت پرسونل یا تکنیشنان، د عامه ادارې تخنیکي پرسونل، د معادنو، اورګاډې پټلۍ، د تونلونو او د هوایي ډګرونو د ساختماني او خدماتي څانګو پرسونل او دېته ورته د تولیدي فابریکو له نیازمندیو سره سم پروفیشنل مسلکي څانګې...که وحسابل شي نو تر تر 300 رشتو پورې یې شمېر زیاتیږي، چې غالباً بلکې تر نیمایي زیاتې رشتې پکې جندري (ښځینه) شمولیت ایجابوي.

*د علاقمندۍ په صورت کې به شاګردان به له دوولسم ټولګیو تر فراغت او اختصاصي امتحان وروسته، دوه کاله نور ذیربطه رشتوي تخصصي تسلسل ته دوام ورکوي، پدې هرې لاندنیو څانګو کې به د مضامین تمرکز غالباً (90٪ رشتوي) او پاتې10٪ به نورو اکادمیکو مضامینو ته اختصاص مومي.*

| تحصیلي رشتې | اکادمیک او تطبیقي دوره | تخصصي او تطبیقي دوره | د کریډیټونو مجموعه | د سند معادلت |
|---|---|---|---|---|
| د اجتماعي علومو څانګې | پنځه کاله (۱۰-۱٤) | دوه کاله (معادل ۱٥-۱٦) | ۳٤+۲۲=٥٦ | لیسانس |
| د ساینسي علومو څانګې | پنځه کاله (۱۰-۱٤) | دو سال (معادل ۱٥-۱٦) | ٤٤+۱٤=٥۸ | لیسانس |
| تخنیکي او مسلکي علوم | پنځه کاله (۱۰-۱٤) | دو سال (معادل ۱٥-۱٦) | ٤٥+۲۰=٦٥ | لیسانس |
| اسلامي علوم او شریعات | پنځه کاله (۱۰-۱٤) | دو سال (معادل ۱٥-۱٦) | ٦۰+ تطبیقي تخصصي | لیسانس |
| د ښوونکو روزنه یا تعلیم او تربیه (۱٥ رشتې) | پنځه کاله (۱۰-۱٤) | دو سال (معادل ۱٥-۱٦) | ٤۰+ تطبیقي مضموني | لیسانس |

## د لوړو زده کړو د اکمال تخصص دوره (له پنځلسم تر شپاړسم ټولګي)

## Higher Education-Bachelor degree

پدې دوره کې به یوازې د مخکنیو نیمه عالي دورو (د مسلکي او تخنیکي زده کړو د انستیتوتونو، د عالي شرعي دارالعلومونو او د عالي دارالمعلمینونو فارغ) زدکړیالان یا محصلان به کولی شي خپلې تخصصي زده کړې تکمیلې کړي، دلته به تخصصي زده کړې مزیداً تخصصي او متمرکزه کیږي او ټول تمرکز به د یوې معیني رشتې پر تخصصي مضامینو او تطبیقي درسونه د دوو کلونو لپاره (15-16 صنفونه) تمرکز مومي او پدې توګه به د لیسانس دوره تکمیلیږي.

### ثانیاً، کیفي اصلاحات، په تعلیمي نصاب، مفرداتو، درسي او د ښوونکو لارښود کتابونو کې اصلاحات او ریفورم

دا برخه ډېره تفصیلي برخه ده چې ټول جزئیات یې دلته نشو بیانولی، اما په اختصار سره ویلی شو چې د کتاب او نصاب په ریفورم او بیا کتنې باندې هم مادي او هم مسلکي تمرکز پکار دی، لکه څنګه چې د تعلیمي دورو د مسلکي تقسیماتو ذکر وشو نو طبعاً که دغه پورته د تعلیمي دورو تقسیم بندي او اصلاحات عملي شي ورسره به په موجوده درسي کتابونه او د ښوونکو په لارښود کتابونو کې هم

بدلون راځي، اوس مهال د معارف په تعلیمي نظام کې څه د پاسه 2200 درسي، د ښوونکو لارښود، د سواد زده کړې او ممد درسي کتابونه (په پښتو، دري او 8 درېمو ژبو، اوزبیکي، ترکمني، پشه یی، نورستاني، بلوڅي، شغناني، ګجري واخاني) شتون لري.



## ***وړاندیزونه دا دي:***

**لومړی وړاندیز،** درسي *کتابونه د کمیت او تعداد له پلوه* د ذکر شویو تقسیم بندیو له مخې په هرې دورې کې، بخصوص په ابتدائیه او ثانوني اختصاصي دورو کې باید راکم شي (مثلاً له اول تر څلورم ټولګې پورې د کتابونو شمېر تر څلورو زیات نشي اوس مهال دغه شمېر په ترتیب سره (7، 7، 8 مضامین دي)، دېته د صنفي اصولو دوره وایي چې لازمه ده (په لیک لوست، املا او خطاطي، متن خواني یا انشاء او په ساده حساب او رسم) ډېر تمرکز وشي، لکه چې یادونه وشوه نو ایجاب کوي چې د نصاب تخصصي ټیمونه د دې ټولو برخو لپاره برنامې او مدونه نصابونه باید جوړ کړې، د درسي نصاب پاتي صنفي ساعتونه باید په ذهني سرګرمیو، لوبو او ذوقي مشغولاو ولګول شي، په ابتدائیه دورې کې د ښوونځۍ ماحول د زده کوونکو ماشومانو لپاره د فکري او بدني ودې او تربیتي پرورشونو لپاره وی، مکتب باید پدې دوره کې د ماشومانو لپاره جذابترین او مقبولترین ځای وي.

**دویم وړاندیز،** د *درسې کتابونو او درسي ساعتونو حجم او مقدار* په ابتدائیه دوره کې باید راکم او د فزیکي او ذهني سرګرمیو وختونه باید زیات شي، خو د ثانوي دورې لپاره باید د زده کړو مضامین په ځانګړو رشتوي مفرداتو متمرکز او د دوی درسي ساعتونه په معیاري توګه، معمولاً په ۵۵ دقیقو کې عیار شي، مثلاً په ساینس کې د ساینسي مضامینو کثرت، په اجتماعیاتو کې د اجتماعي مضامینو او په اسلامیاتو کې د اسلامي مضامینو تمرکز پراخ شي همدارنګه درسي مضامین د درجې، نمرې او اهتمام له لحاظ په ترتیب سره په لومړیتوب کې راوستل شي، د اصلي مضامینو درجه او د ضمني مضامینو درجه او اعتبار باید تفکیک او تر اصلي هغو په کمه رتبه کې درج کړی شي، دلته یې له میخانیکي او مسلکي تشریح تیرېږم، یو څه تفصیل غواړي چې په تفصیلي طرحه کې به پرې کار وشي.

**دريم وړانديز،** د نصاب او *درسي کتابونو محتوايي بدلون،* نصاب يوه متغيره پديده ده، دا پديده په ثوابتو کې نه راځي، معنا دا چې تعليمي نصابونه له علمي او هدفي اړتياو سره سم پکې ادلون او بدلون راتلای شي، نصابونه بايد له اړتيا سره سم تجديد يا اپډيټ شي، وکتل شي چې د اوسني وخت اړتيا، ستندردونو او شرايطو ته ځوابده دي کنه؟

د نصابونو د ادلون بدلون په هکله تر اقدام دمخه او هم يې پر موثريت او نه موثريت تر قضاوت د مخه بايد وکتل شي چې نصابونه د کومو اهدافو او اصولو له مخې ترتيبيږي؟ يعني د پوهنې نظام او د هېواد رهبری د تعليم او تعلم له پروسې څه شی غواړې ترلاسه کړي؟ آيا دوی غواړي د وطن د بچو آينده او تعليمي تسلسل د تعليمي نصاب په واسطه د ټاکلو مسلکي يا علمي اهدافو لپاره عيار او تنظيم کړي؟

معنا دا چې نصابونه بايد ځانګړې هدفمندي ولري چې د هغه په واسطه زده کوونکي روزل کيږي، بل دا چې نصابونه بايد د علمي او صنفي تکامل ځانګړتياوي ولري مثلاً د ابتدائيه نصاب بايد د متوسطه دورې تکميلونکی وي، د متوسطه دورې د ثانوي او د ثانوي دورې د لوړو زده کړو لپاره مکمل او ممد او په همدې ترتيب تر دوکتورا او تخصص پورې دا تکامل او تسلسل بايد پايه په پايه خپل ارتقايي او تکاملي سير او سلسله تکميل کړی شي.

پدې حساب ويلی شو چې د افغانستان اوسنې تعليمي نصاب په محتوايي او هدفي لحاظ بايد د افغانستان د کار د مارکيټ له نيازمنديو، علمي معيارونو او اخلاقي او سنتي ارزښتونو په حفظ سره داسې عيار شي چې ټاکلې اهدافو ته زمونږ نسل ورسوي، په محتوايي بدلونونو کې زه غالباً د نصاب د مسلکيتوب يا مسلک محوری وړانديز لرم، څنګه چې پورته اشاره وشوه او د مسلکي او تخنيکي زده کړو د پراختيا او ورته د لومړيتوب ورکولو طرفدار يم، نو لازمه ده زمونږ موجوده تعليمي عمومي نصاب General Education زياتره و هغه تخنيکي او مسلکي زده کړو TVET ته واړول شي چې طبعاً بيا به د مسلکي، تخنيکي او حرفوي زده کړو د رشتو او څانګو مطابق د کتابونو محتوا تدوين کيږي.

**څلورم وړانديز،** د مهادتونو او قابليتونو د ارزوني او د ډيپلومونو د تصديقولو د عالي بورډ يا د Qualifications firework authority ايجادول.

د مهارتونو او قابليتونو د ارزوني او د ډيپلومونو د تصديقدهی بورډ به د کاري استقامت له مخې په يوه مرحله کې د پوهنې وزارت د نهم ټولګيو د فارغينو د ذهني او رشتوي مهارتونو او قابليتونو ارزونه ترسره کوي او تر تثبيت وروسته به زده کوونکي د هغوي له ذهني، شوقي او بالقوه توانمنديو سره سم اړوند ثانوي اختصاصي دورو ته ورمعرفي کوي.

همدارنګه به په يوې بلې مرحلې کې د اړوند بورډ د نيمه عالي او لوړو زده کړو تر فراغت وروسته د هغوی رشتوي کچه (په پرکتيک او تيوريک کچه) ارزوي او له تثبيت او نتيجې وروسته به يې د فراغت د اسنادو تصديقدهي ترسره کوي او که ايجاب وکړې يا کمبود ولري نو به يې تکميلي کورسونو ته ورمعرفي کوي تر څو د کار د بازار يا سکتوري وظايفو له تقاضاوو او شروطو سره سم بازار ته فارغ کدرونه په ښه کيفيت عرضه شي.

البته چې ددغه بورډ به ګڼ نور مسووليتونه او وظايف هم وي چې د صلاحيتونو او مسووليتونو په مسوده کې به ورته درج کيږي، خو دلته پدې ټينګار کيږي چې د تعليمي او تحصيلي کيفيت د بهبود او هم د فراغتونو د ډيپلومونو او اسناد د تصديقدهی چارې د همداسې يو مستقل او خپلواک متخصصه نهاد لخوا بايد ترسره شي تر څو له يوې خوا معناداره مسلکي کدر د کار بازار ته عرضه شي او بل دا چې د جعلي او تقلبي اسنادو او فراغتونو ګنجايش کاملاً ختم شي.

**ثالثاً، تقنيني اصلاحات، په ځېنو اړوند قوانينو او لاندنيو اسنادو کې د تعديل، ايزاد او اصلاحاتو ايجاب**

- د پوهنې په قانون کې تعديلات او اضافات
- د پوهنې وزارت په تشکيلاتي هرم کې اصلاحات، بخصوص د علمي شورا، معينيتونو، برنامو او اړوند تدريساتو کې
- د لوړو زده کړو په قانون کې تعديلات
- د لوړو زده کړو په اکادميکو تشکيلاتو (د فاکولتو او پوهنځيو په کچه) او تخصصي دورو کې بدلون او بيا کتنه
- د ملکي خدمتونو د مامورينو په قانون کې بدلون، بخصوص د استادانو د تقرر، رتبوي ارتقا، انفکاک، معاشاتو او مسلکي معيارونو د ټاکنې په برخه کې د پوهنې او لوړو زده کړو ته د اړوند چارو او واکونو انتقال
- د کار په قانون کې ادلون بدلون، بخصوص د استادانو، علمي کدرونو او تدريسي کارکوونکو د تفکيک او امتيازاتو په هکله
- د رتبو او معاشونو په قانون کې تعديلات او اضافات، بخصوص د استادانو، علمي کدرونو او تدريسي کارکوونکو د تفکيک او امتيازاتو په هکله
- د پوهنې وزارت د خصوصي ښوونځيو او تعليماتو په مقرره کې بدلون
- د لوړو زده کړو د خصوصي پوهنتونونو او تحصيلات په قانون کې بدلون
- لوړو زده کړو ته د نيمه عالي تحصيلاتو د قبول او شموليت په سيستم او لوايحو کې بدلون او اصلاحات
- البته ګڼ نور نورماتيفونه، کړنلارې، رهنمودونه، لوايح، مقررات او قوانين به وي چې لدې طرحې سره تنظيم او تعديل کيداى شي، چې دا به ددې ريفورمي طرحي تر قبول کيدو وروسته د اړوند تعليمي او تحصيلي سکتور لخوا حسب لزومديد پېژندل کيږي

